مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۱۷** (از ۱۹ الی ۲٦ ثور ۱۳۹۴ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

- مقدمه ........ ۲

### افغان-پاک اړيکي؛ زياتېدونکې بې‌باوري او "Bپلان"

- ايا د سولې خبرې پيل شوې؟ ........ ۴
- پراخېدونکې نامنی ........ ۴
- د جګړې د شدت عوامل ........ ۴
- د افغانستان-پاکستان زياتېدونکې بې‌باوري ........ ۵
- د افغان حکومت هيلې او د پاکستان لوبې ........ ۷
- آيا "B پلان" به هر څه بدل کړای شي؟ ........ ۸
- پايله ........ ۹

### آیا از راه جنگ می‌توان به صلح دست یافت؟

- "جنگ تحمیلی" ........ ۱۲
- طالبان نیز جنگ فعلی را "تحمیلی" می‌دانند! ........ ۱۲
- "تحمیلی" بودن جنگ از نظر حزب اسلامی ........ ۱۳
- رسیدن به صلح از راه جنگ ........ ۱۳
- نتیجه ........ ۱۴

## سریزه

تېره اوونۍ کابل ته د پاکستاني لومړي وزير نوازشريف او د پوځ مشر، جنرال راحيل شريف سفر د خبرونو سرټکی و. دا لومړی ځل دی چې د پاکستان جګپوړي پوځي او ملکي چارواکي په يوه سفر کې کابل ته راځي. دا سفر داسې مهال ترسره کېږي چې له پاکستانه د سولې په تړاو د افغانستان هيلې په نهيلۍ بدلې شوې دي. سربېره پر دې، د سولې خبرو د پيل هغه ژمنه هم، چې راحېل شريف ولسمشر غني ته سپارلې وه چې ګويا د مارچ په لومړيو کې به د سولې خبرې پيلېږي، له وخته تېره ده.

څو پوښتنې؛ په دغسې شرايطو کې به د نوازشريف سفر وکولای شي د کابل رضايت ترلاسه کړي؟ کابل له اسلام اباده څه غواړي؟ ايا اسلام اباد هغه څه کابل ته ورکولای شي، چې کابل يې تمه لري؟

له بلې خوا، د سولې او روغې جوړې د خبرو په تاوده شور کې، ولسمشر غني د جګړې شعار ورکړ. ولسمشر روانه جګړه «تحميلي» وبلله او د دې جګړې ځواب يې په جګړې ورکړ. په افغانستان کې په تاريخي لحاظ هر اړخ له خپل حريف سره جګړه «تحميلي» بللې ده. دغسې جګړه‌ييز ذهنيت به څومره سولې ته غاړه کېږدي؟

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز د دې اوونۍ په تحليل کې پر همدې موضوعاتو شننې کړې دي.

# افغان-پاک اړیکي؛ زیاتېدونکې بې‌باوري او "Bپلان"



کابل ته د پاکستاني چارواکو په وروستي سفر کې د پاکستان له لومړي وزیر نوازشریف سره د پوځ مشر، جنرال راحیل شریف، د څارګرې ادارې مشر، جنرال رضوان اختر، په امنیتي او بهرني سیاست کې د لومړي وزیر مشاور سرتاج عزیز، د مالیې وزیر، اسحاق ډار او ځینې نورو پاکستاني چارواکو د لومړي وزیر ملتیا کوله. نوازشریف، په ۲۰۱۳م کال کې واک ته له رسېدو وروسته دویم ځل دی چې افغانستان ته سفر کوي؛ خو په کابل کې د ملي وحدت د حکومت له تشکیل وروسته لومړی ځل دی چې کابل ته راځي.

د شریف سفر داسې مهال ترسره کېږي، چې له یوې خوا د جنرال راحیل شریف له خوا ولسمشر غني ته د هغې ژمنې تاریخ هم تېر شوی چې ګواکې طالبان به د مارچ په لومړیو کې د غني له حکومت سره نېغ په نېغه خبرې پیلوي او له بلې خوا د پسرلي په رارسېدو سره د طالبانو له خوا د "عزم" په نوم عملیاتو له اعلان وروسته د هېواد امنیتي وضعیت خورا زیات خراب شوی. شریف داسې مهال کابل ته راځي، چې تېره اوونۍ د افغان طالبانو استازو هم په یوه دوه ورځنۍ غیر رسمي غونډه کې د افغان حکومت له غیررسمي استازو سره په قطر کې خبرې اترې وکړې.

## ایا د سولې خبرې پیل شوې؟

تېره اونۍ په قطر کې د پګواش په نامه د کاناډایي بنسټ له خوا د "افغان ډیالوګ" تر سرلیک لاندې په افغانستان کې د سولې او ثبات په اړه دوه ورځنۍ غونډه جوړه شوه. د پګواش په غونډه کې د طالبانو استازو، د سولې عالي شورا غړو، د حکمتیار د حزب اسلامي ځینو غړو او یو شمېر خپلواکو شخصیتونو ګډون کړی و.

اوس پوښتنه دا ده، چې ایا د پګواش ناسته په کابل کې د جنرال راحیل شریف د هغې ژمنې په اساس ترسره شوه چې ولسمشر غني ته یې ویلي و چې طالبان به د مارچ په لومړیو کې، په مخامخ خبرو کې ګډون کوي؟ د پګواش په ناسته کې لومړی هېڅ افغان رسمي استازي ګډون نه درلود. دویم، په دغې غونډه کې هېڅ پاکستاني استازي اشتراک نه درلود. سربېره پر دې، په قطر کې طالب استازو تېرو ډیپلوماتیکو هڅو ته په پام سره، د پګواش په ناسته کې د پاکستان دخالت یا ابتکار تر ډېره لرې برېښي. که چېرته پاکستان کولای شوای چې دا غونډه په خپل ابتکار راوغواړي، بیا به، د فبرورۍ د ژمنې له مخې، په دوبۍ، کابل یا هم اسلام اباد کې ترسره کېده.

## پراخېدونکې ناامني:

طالبانو د اپرېل په ۲۲مه د عزم په نامه خپل پسرلني عملیات اعلان کړل. د عزم عملیاتو په بې ساري ډول د جګړې لمن له سنتي جنوبي بستر څخه شمال ته وغځوله. د دې عملیاتو په پایله کې طالبانو د کندز مهم بندري ولایت د مرکز تر څنډو پرمختګ وکړ. سربېره پر دې، طالبانو ګورتېپه ونیوله، د بادغیس جوند ولسوالۍ ونیول شوه او د غزني ناوه ولسوالۍ هم چې د وروستیو راپورونو له مخې، له لسو کلو وروسته د افغان ځواکونو تر کنټرول لاندې راغلې وه، بېرته طالبانو نیولې ده.

## د جګړې د شدت عوامل:

**لومړی:** په پسرلي کې معمولاً طالبان خپل نوي عملیات اعلانوي. له یوې خوا په افغانستان کې په دې موسم کې ښه جګړه کېږي، له بلې خوا دغه ډله خپلو جنګیالو ته نوې روحیه ورکوي؛

**دويم:** د طالبانو سرني عمليات د نورو کلونو په پرتله ډېر شديد دي. سږ کال ځينو امريکايي رسنيو په افغانستان کې د داعش ډلې د شتون خبره مطرح کړه، ځينو داسې وړاندوينه وکړه چې ګواکې د طالبانو ځای داعش ډلې ونيو. ښايي طالبانو د خپل ځواک د ثبوت لپاره هم دغسې عمليات پيل کړي وي.

**درېيم:** له تېرو دوو مياشتو راهيسې، په تېره له هغې راهيسې چې په جنورۍ او فبرورۍ کې د پاکستان لوی درستيز، جنرال راحيل شريف کابل ته څو سفرونه وکړل او د خبرو اترو ژمنې يې وکړې. دغو ژمنو داسې هيلې راوټوکولې چې ګواکې پاکستان به طالبان د سولې د خبرو مېز ته کېنوي؛ اوس ښايي طالبان وغواړي د دغو عملياتو له لارې خپله خپلواکي ثابته کړي.

**څلورم:** افغانستان په تېر ژمني کې له امريکا سره لانجمن امنيتي تړون لاسليک کړ. طالبان اوس هڅه کوي، چې د امنيتي تړون له لاسليک سره سره خپل فعال حضور ثابت کړي او تړون بې‌اغېزې وښيي.

## د افغانستان-پاکستان زياتېدونکي بې‌باوري:

په وروستيو مياشتو کې په افغانستان کې ډېری افغاني مطبوعات او د پارلمان غړي د پاکستان په تړاو د افغان حکومت خارجي سياست او پر هغو پرېکړو چې له مخې يې افغان حکومت، پاکستان ته يو شمېر امتيازات ورکړل، تر نيوکو لاندې نيسي.

د دې ترڅنګ په خپله د حکومت دننه هم د افغانستان د خارجي سياست په تړاو اختلافات شته دي، چې د يمن په قضيه کې له سعودي څخه د ملاتړ له کبله هم راڅرګند شول. دغه راز، اشرف غني او عبدالله عبدالله هم، د پاکستان تګلارې په تړاو يو شمېر اختلافات لري، له همدې کبله ده چې د پاکستان په اړه د افغانستان د اجرائيوي رئيس دويم مرستيال محمد محقق وويل، موږ پر سولې باور درلود، ګاونډيانو هم له موږ سره پخې ژمنې وکړې؛ خو موږ غافله شوو او په هېواد کې د مخالفينو بريدونه زيات شول. له دې خبرې څخه د بې باورۍ کچه په څرګنده توګه معلومېږي او د پاکستان د "څنډ" تګلارې ته د يوه جنګي چال په سترګه کتل کېږي.

همداسې د ملي شورا د يو شمېر غړو په اند د پاکستاني چارواکو دغه سفرونه يوازې يو اړخيز او د دوی په ګټه دي. د پاکستاني جګپوړو چارواکو سفرونه نمايشي او د افغانستان په اړه، د پاکستان سياست دوه مخی بولي.

دا چې په افغانستان کې د پاکستان پرخلاف دا ډول بې باورۍ ولې زیږي، لاملونه یې تر ډېره تاریخي او تجربوي دي. دلته موږ تجربوي او تاریخي لاملونه پرېږدو او سیده هغه لاملونه په نښه کوو، چې له تېرو شپږو میاشتو راهیسې یې د دغې بې باورۍ په زیږولو کې ونډه اخیستې ده:

**لومړی؛ د کابل زیاتې هیلې:** افغان حکومت طالبان د پاکستان لاسپوڅي ګڼل او په همدې تکل یې پاکستان ته ډېر امتیازات هم ورکړل او هیله یې درلوده چې شاید پاکستان به دا ځل له افغان دولت سره رښتینې مرستې وکړي. طالبان به له افغان حکومت سره د خبرو اترو مېز ته کېنوي او په دې توګه به بالاخره په افغانستان کې سوله ټینګه شي؛ خو د شپږو میاشتو له تېرېدو سره هېڅ هم ونه شول، بلکې ورځ تر بلې په افغانستان کې ناامنۍ زیاتې‌ېږي. د افغان حکومت تېروتنه دا وه، چې له پاکستان سره یې دا ډول هیلې وتړلې. البته که په دې اړه یې دوه محوره پالیسي چلولې وای، شاید د بریالیتوب چانسونه به یې زیات وای؛ له یوې خوا یې له طالبانو سره له هغه ځای څخه خبرې اترې پیل کړې‌وای، چې اشرف غني د ټاکنو پرمهال په قطر کې پرې ایښې وې او له بلې خوا یې له پاکستان سره روانه پالیسي په تدریجي ډول چلولې وای.

**دویم؛ طالبان ځانونه خپلواک ګڼي:** د پګواش کنفرانس د ګډون کوونکو له قوله، چې یو یې د اشرف غني تره قیوم کوچی هم و، د افغان حکومت دغه چلند طالبان سخت پارولي دي. طالبان اوس له یوې خوا افغانانو ته داسې ښیي، چې دوی نه د چا لاسپوڅي دي او د نه چا تر اغېزو لاندې. ځکه خو یې خپل پسرلني عملیات په ښه زور او زوږ سره پیل کړل او هڅه کوي، چې خپلې بهرنۍ چارې د پاکستان له اغېزو څخه پاکې کړي. په همدې تړاو د قطر دفتر پرانېستل، په پاکستان کې د طیب اغا د ورونو نیول کېدل، د ملا برادر نظربندي او په پاکستان کې د ځینې مهمو طالب مشرانو وژل کېدل د دغو هڅو ښېلګې دي، چې طالبان خپل ځانونه خپلواک او خپلې بهرنۍ چارې د پاکستان له نفوذ څخه لرې ښیي. البته په دې اړه پاکستان او ځینې پاکستانیان اوس هم پر طالبانو یو ډول اغېزه لري او هم پرې اغېزه ښندلای شي؛ خو دغه اغېزې بیا دومره هم نه دي، چې دوی په زوره سولې ته اړ کړي.

**درېیم؛ د پاکستان پخې ژمنې:** د دې ترڅنګ د پاکستان د لوی درستیز پخې ژمنې هم، د دغې بې باورۍ په زیږولو کې خپله لویه برخه لري. پاکستانیانو له افغان حکومت سره ډېرې پخې ژمنې وکړې، ان مشخصه نېټه یې په نښه کړه، چې د مارچ په منځ کې به طالبان له حکومت سره خبرو اترو ته چمتو کړي. خو دا دی د مارچ په میاشت دوه میاشتې نورې هم واوښتې خو پاکستان لاهم افغان طالبان دې ته چمتو نه شوای کړل، چې له افغان حکومت سره خبرو اترو ته کېني.

**څلورم؛ د ناامنیو زیاتوالی:** په هېواد کې د ناامنیو زیاتوالی او د شمال پر لور د روانې جګړې پراخېدل هغه نور عوامل دي، چې ډېری افغانان یې د پاکستان د نیت په اړه شکمن کړي دي. په دغو ناامنیو کې د کابل په پلازمینه او نورو سیمو کې چاودنې، مرګوني بریدونه او د طالبانو پسرلني عملیات شامل دي.

**پنځم؛ هندي لابي او د ملي وحدت حکومت اختلافات:** دا د افغانستان یوه بدمرغي ده، چې یو شمېر چارواکي یې یا په هندي لابي کې وي او یا پاکستاني لابي کې؛ یو هم د افغانستان ملي ګټې په پام کې نه نیسي، بلکې دغو نومړو هېوادونو ته کار کوي. دواړه لابیانې زور کوي، چې د کابل اړیکې له دغو دوو هېوادونو سره یو محوره کړي او د بل اغېزې پرې راکمې کړي. له همدې ځایه له کله نه چې له پاکستان سره اړیکې د ښه کېدو پر لور ولاړې نو هندي لابي هم په حرکت راغله او د دغو نږدې کېدونکو اړیکو پرخلاف یې څرګندونې او تبصرې پیل کړې. که څه هم اوسمهال د دې بې باورۍ تر شا ډېری پورتني عوامل دي، خو دې لامل هم یو مرستندوی رول لوبولی.

## د افغان حکومت هیلې او د پاکستان لوبې:

کله چې د تېر کال ډسمبر پر ۱٦مه په پېښور کې د پوځ پر یوه ښوونځي پاکستاني طالبانو برید وکړ او له سلو ډېر زده کوونکي یې ووژل، د پېښې په سبا د پاکستان لوی درستیز، جنرال راحیل شریف کابل ته سفر وکړ. په کابل کې د نومړي تکراري سفرونو داسې باور رامنځ ته کړ، چې ګواکې پاکستان نور د غني له حکومت سره په ګډه د طالبانو پر ضد موقف خپل کړی دی. دا باور له هغې وروسته لا پوخ شو، چې راحیل شریف له ولسمشر غني سره ژمنه وکړه چې طالبان به د مارچ په لومړیو کې مخامخ خبرو کې برخه اخلي او دې ژمنې کابل ډېر هیله من کړی و.

ویل کېږي، چې پاکستان له ځینو طالب مشرانو څخه غوښتي وو، چې له کابل سره خبرې وکړي؛ خو طالبانو په کلکه رد کړې وه. پاکستان یا نه غواړي چې د افغانستان د سولې په بهیر کې لازمه مرسته وکړي او دویم احتمال دا دی چې پاکستان د سولې په بهیر کې پر طالبانو دومره اغېز نه لري چې کابل یې فکر کوي. د ځینو ښکاره شواهد پر بنسټ دویم احتمال قوي برېښي. ځکه نو، کله چې خبرو اترو ته د طالبانو د حاضرولو په اړه تړاو د جنرال راحیل شریف د ژمنې وخت راورسېد، پاکستاني رسنیو داسې راپورونه خپاره کړل چې ګواکې د سولې خبرې به ډېرې ژر پیل شي. افغان رسنیو، د دې لپاره چې د پاکستان رول برجسته وښیي، هماغه

راپورونه چې هېڅسر چینې نه تاییدول په پراخې پیمانې نشرول. حتا د پاکستان ایکسپریس ورځپاڼې په مارچ کې داسې راپور هم نشر کړ چې د طالبانو د قطر دفتر غړی، قاري دین محمد پاکستان ته تللی، له پاکستانیانو سره یې مذاکرات کړي او بېرته قطر ته ورسېد!

پاکستاني چارواکو چې کله کابل ته سفرونه کړي، کابل کې یې هیلې راټوکولې چې ګواکې سوله راځي. په مقابل کې، پاکستان له خپلو قوي رسنیو په ګټه پورته کولو سره ځینې داسې راپورونه خپاره کړي، چې خپل کاذب رول یې حقیقت ته نژدې ښودلی. افغان حکومت لاهم د پاکستان دا لوبه نه ده درک کړې.

له بلې خوا طالبانو د پګواش په کنفرانس کې له افغان حکومت څخه یوه ګیله دا کړې وه چې د اصلي سرچینو پر ځای ځینو ګاونډیو هېوادونو څخه د سولې په برخه کې مرسته غواړي. ښایي همدا لامل به و چې طالبانو په پګواش ناسته کې د پاکستانیانو له شتون سره مخالفت کړی و. په پګواش کې د طالبانو وینامتن ښکاره کړه چې هڅه کوي، د پاکستان له اغېزو ځان لرې کړي.

## آیا "B پلان" به هر څه بدل کړای شي؟

د پخواني ولسمشر، حامد کرزي د دیارلس کلنې واکمنۍ پر مهال د افغانستان او پاکستان اړیکې تر ډېره له لوړو ژورو سره مخ وې. د کرزي حکومت پر دې باور و چې ګواکې دا پاکستان دی چې په افغانستان کې د سولې او جګړې کیلي په لاس کې لري. دا خبره ولسمشر کرزي په خپله وروستۍ وینا کې هم وکړه چې ګواکې دا واک له پاکستان سره دی او پاکستان د ده له حکومت سره مرسته ونه کړه.

په افغانستان کې د ملي یووالي د حکومت له تشکیل راهیسې، ولسمشر اشرف غني هڅه کوي چې په سیمه کې اړیکې اقتصاد-محوره کړي. پر دې معنا، چې له ګاونډیانو سره اقتصاد ته لومړیتوب ورکړي؛ ځکه اقتصاد دواړو اړخونو ته په ګټه دی. له بلې خوا، غني ګومان کوي چې د سیمې د اقتصادي پیوستون له لارې، افغانستان کولای شي د اسیا د پُل حیثیت راخپل کړي. له همدې امله، د بهرنیو چارو وزارت د ستراتیژیکو مطالعاتو مرکز د مشر دکتور فرامرز تمنا په وینا اوس «په افغانستان کې شته اقتصادي ظرفیتونه کولای شي، چې د دې اړیکو بنسټ شي. له امنیتي فاز څخه اقتصادي فاز ته ورتګ له پاکستان سره د افغانستان د اړیکو نوی سیاست دی».

تمنا وايي: «A پلان موږ په تېرو دیارلسو کلونو کې خپلو موخو ته ونه رسولو. افغانان اوس سولې ته اړتیا لري او د سولې غوټه د پاکستان په لاس کې ده».

افغانستان "Bپلان" ځکه رامخې ته کوي، چې ګومان کوي له دې لارې به د پاکستان مرستې راخپلې کړي. تمنا وايي: «د اړیکو اقتصادي کول د همدې هدف لپاره دي». افغان حکومت یوه تکراري تېروتنه کوي او هغه دا چې د سولې "غوټه د پاکستان په لاس" کې ګڼي. پاکستان په تېرو دیارلسو کلونو کې له دې کریډیټ څخه اعظمي ګټه پورته کړه. اوس هم افغان حکومت د پاکستان پر هرې ژمنې ډېر هیله‌من کېږي.

افغان حکومت تر هغې چې په هېواد کې د ناامنۍ اصلي ریښې مشخصې نه کړي او د له منځه وړلو لپاره يې هڅې ونه کړي، د نورو هېوادونو په تمه کېدل بیا هم پر نهیلۍ تمامېږي. د غني حکومت له یوې خوا سولې ضد کړنې کوي له بلې خوا به پاکستان څخه د سولې تمه کوي. د سولې لارې یوازې د اسلام‌اباد له لارې نه دي تللې. د سولې رښتیني لارې شته چې افغان حکومت په ډېره اسانۍ سره ترې ګټه پورته کړي چې تر اوسه ترې استفاده نه ده شوې.

## پایله

د نوازشریف او راحیل شریف وروستی سفر کابل ته داسې مهال ترسره کېږي، چې د پاکستانیانو له خوا د سولې خبرو اترو په تړاو یوه شوې ژمنه ناکامه وختله. په نوې ناسته کې د دې پر ځای چې کابل په مارچ کې د خبرو د نه پیلېدا لامل پوښتلی وای، له پاکستانه يې خپلو هیلو ته دوام ورکړ. د غني او نوازشریف خبري ناسته کې تر ډېره همداسې خبرې وشوې.

څو خبرې پاموړ دي:

**لومړی:** افغانستان تل له پاکستان څخه دومره توقع کړې ده چې هغومره توان د پاکستان په وس پوره نه و؛

**دویم:** پاکستان هم د افغانستان باور لاپیاوړی کړی او داسې پروپاګند يې کړی چې دغه هېواد ګواکې کولای شي د افغانستان په سوله او ثبات کې مرسته وکړي. له دغسې حالت څخه پاکستان ډېره دیپلوماتیکه ګټه پورته کړې ده؛

**دریيم:** پاکستان ته چې د سولې په برخه کې کوم رول افغان حکومت ورکړی، اوس د همدې رول له مخې چې ګواکې مرسته به کوي، پر افغان خپلې غوښتنې مني؛

**څلورم:** افغانستان بې له دې چې د پاکستان کومه ملموسه مرسته ووینې، یا یې کوم عملي اقدام وګوري، پاکستان ته امتیازونه ورکوي؛

**پنځم:** که د طالبانو کړنو او سیاسي دفتر ته نظر وکړو، ښکاري چې دا ډله په دې هڅه کې ده چې تر خپلې وسې د پاکستان له اغېزو ځان خلاص کړي؛

**شپږم:** افغان حکومت لا هم پر هماغه لار درومي، چې تېر دیارلس کلونه پرې ولاړ؛ خو کومې پایلې ته ونه رسېد.

# آیا از راه جنگ می‌توان به صلح دست یافت؟



رئیس جمهور اشرف غنی اخیرا در عکس العمل به ناامنی‌های اخیر در افغانستان که با عملیات عزم از جانب طالبان آغاز شده است، گفت که افغانستان درگیر جنگ تحمیلی شده است و ما این جنگ را با جنگ پاسخ می‌دهیم، اما به پروسهٔ صلح نیز ادامه خواهیم داد.

این سخن رئیس جمهور غنی تازگی ندارد، زیرا در طول تاریخ بهانهٔ هر جنگی صلح بوده است. هر کشور یا گروهی که جنگی را آغاز می‌کند نمی‌گوید که من تا ابد می‌جنگم بلکه می‌گوید که این جنگ برای رسیدن به صلح است. در هر جنگی طرف مقابل بدترین موجود عالم است که باید نابود شود و با نابودی طرف مقابل، صلح تحقق می‌یابد. از جنگ‌های داخلی گرفته تا جنگ‌های منطقوی و دو جنگ جهانی، همه به بهانهٔ تامین صلح در جهان به راه افتادند.

به بهانهٔ جنگ به منظور تامین صلح، تنها در قرن بیستم بیش از 220 جنگ به وقوع پیوست و بیش از 200 میلیون تلفات انسانی از خود بر جا نهاد.

## "جنگ تحمیلی"

در جریان جنگ معمولا طرف‌های درگیر طرف مقابل را به تحمیل جنگ بر خود متهم می‌سازند، بنابراین واژۀ "جنگ تحمیلی" نمایانگر نوعی ناگزیری از ادامۀ آن برای هردو جانب است.

در جنگ 36 سالۀ افغانستان ما شاهد بودیم که همیشه طرف‌های درگیر، طرف مقابل را عامل تحمیل جنگ می‌دانستند و این سلسله تا امروز ادامه دارد. حتی حملۀ امریکا بر افغانستان را نیز رسانه‌های امریکایی تحمیل جنگ از جانب تروریست‌ها بر ایالات متحدۀ امریکا می‌دانستند.

این تنها رئیس جمهور غنی نیست که متعقد به تحمیلی بودن جنگ در افغانستان است بلکه مخالفین مسلح نیز دلیل دوام این جنگ را ناشی از تحمیلی بودن آن می‌دانند.

## طالبان نیز جنگ فعلی را "تحمیلی" می‌دانند!

طالبان به این باور اند که تجاوز امریکا بر افغانستان و اشغال این کشور موجب تحمیل جنگ بر آنان شده است و ناگزیر اند تا خروج کامل نیروهای خارجی از افغانستان، به آن ادامه دهند. طالبان در بیانیۀ شان در نشست قطر گفتند که:

«آمریکا و دوستانش بر یک کشور مستقل "افغانستان" تجاوز نظامی کرده‌اند، در اینجا هزاران تن را به شهادت رسانده‌اند، زندانی کرده‌اند، به مقدسات دینی ملت توهین و بی‌حرمتی کرده‌اند، خانه‌ها، باغ‌ها و زمین‌هایشان را ویران ساخته اند، پس باید مادر تمام این مصائب که اشغال است، در قدم نخست پایان یابد تا زمینۀ صلح و تفاهم بین افغان‌ها مساعد گردد، از سوی دیگر کشورهای منطقه نیز با حضور قوت‌های خارجی در افغانستان حساسیت دارند، بناءً دوام اشغال به معنای ادامۀ جنگ است.

این نیز یک حقیقت است که در صورت موجودیت قوت‌های خارجی، ساختن حکومت مستقل در افغانستان ممکن نیست، نه استقلال کشور تکمیل می‌گردد و نه هم راهکاری مبتنی بر مصالح اسلامی و ملی. نتیجتاً همانگونه که به دلیل تجاوز خارجی‌ها در کشور عزیز ما جنگ شروع گردیده است، خروج عساکر خارجی ان شاءالله شروع صلح در بین افغان‌ها خواهد بود، برای افغانها فرصت مساعد خواهد شد که در بین خود با توجه به مشترکات شان جمع گردند و یک نظام اسلامی افغان شمول را ایجاد نمایند.»

## "تحمیلی" بودن جنگ از نظر حزب اسلامی:

تنها طالبان به این نظر نیستند بلکه حزب اسلامی حکمتیار که نقش مهمی نیز در جنگ ندارد، موقفی مشابه با طالبان دارد. در بیانیهٔ حزب اسلامی در نشست قطر در مورد آیندهٔ جنگ و صلح در افغانستان چنین آمده است:

«ما خواهان صلح هستیم، ملت افغان خواهان پایان جنگ اند، اما ختم جنگ و به میان آمدن تفاهم به صورت کامل در دست امریکاست. جنگ را آنها بر ما تحمیل کرده‌اند و آنها موجب دوام این جنگ اند. امریکا تصمیم دارد تا در این منطقه حضور دایمی داشته باشد و برای دوام حضور نیروهایش نیاز به یک جنگ کنترول شده در افغانستان دارد تا مردم خود را قانع بسازد و هم مخالفین جنگ را خاموش نماید. نه به حکومت کابل این اختیار را می‌دهد که گامی بسوی صلح بردارد و نه قوای خود را از افغانستان بیرون می‌سازد تا بگذارد که افغانها مشکلات خود را خودشان میان خود حل کنند. این حرف کرزی کاملا درست است که می‌گوید کلید جنگ و صلح در افغانستان در دست امریکاست... امریکا به مقامات دولت در کابل هیچ اختیاری در رابطه با صلح با مخالفین نداده است.

... اشرف غنی می‌خواست که برای رسیدن به صلح کار کند و در این رابطه چندین نامه به امیر حزب اسلامی افغانستان فرستاد، اما امریکایی‌ها با این تلاش‌های وی مخالفت کردند...»

## رسیدن به صلح از راه جنگ:

در جریان کمپاین انتخاباتی، اشرف غنی احمدزی بر این نکته تاکید داشت که تلاش در جهت رسیدن به صلح در افغانستان نخستین اولویت کاری وی در صورت رسیدن به قدرت خواهد بود. در جریان انتخابات، شایعاتی در جریان بود که گویا طالبان در بعضی از ولایات نه تنها مانع مردم برای رفتن به صندوق‌های رای‌گیری نشدند، بلکه به نفع اشرف غنی نیز کمپاین نمودند.

مردم افغانستان نیز که در طول چندین دهه، بار یک جنگ خونین و مصیبت‌بار را به دوش کشیده بودند به این امید بودند که حکومت جدید بتواند در مسیر صلح و ثبات در کشور گام بردارد. رئیس جمهور غنی نیز بارها به این نکته تاکید نموده بود که بدون صلح و امنیت در افغانستان، هیچ برنامه‌ای به منظور پیشرفت در این کشور قرین موفقیت نخواهد بود.

وقتی رئیس جمهور تا این حد به اهمیت صلح در پیشرفت کشور به سوی آیندهٔ بهتر معتقد بود، پس چرا پیمان امنیتی با امریکا را بدون چون و چرا امضا کرد؟

جواب این سوال شاید این باشد که او معتقد به رسیدن به صلح از راه جنگ است. همانگونه که در آغاز گفتیم در طول تاریخ بهانهٔ هرجنگی صلح بوده و امروز هم دولت جدید، به این امید قرارداد امنیتی را با امریکا امضا کرد که نیروهای افغان از حمایت امریکا در جنگ علیه طالبان برخوردار باشند و به این ترتیب همانگونه که طرفداران امریکا در افغانستان قبلا هم تاکید داشتند، به طالبان باید از راه جنگ این حقیقت تفهیم گردد که آنها با ادامهٔ جنگ چیزی به دست نمی‌آورند و باید سلاح بر زمین بگذارند و راه صلح را در پیش گیرند. اینکه اشرف غنی می‌گوید که ما جنگ را ادامه می‌دهیم، اما از مذاکرات صلح نیز غافل نیستیم، به این معنی است که نخست باید طالبان از راه فشار نظامی تضعیف گردند و بعد با آنها مذاکرات صلح آغاز گردد.

## نتیجه:

جنگ قبل ازاینکه در سنگرها با شلیک گلوله‌ها آغاز گردد، بر ذهنیت‌ها تحمیل می‌شود. این انسان‌ها اند که می‌توانند با درک درست از جریانات، مانع تحمیل خشونت بر ذهن خویش گردند و دست بردن به اسلحه را به عنوان یگانه گزینه برای رسیدن به هدف نپندارند. وقتی تمایل به خشونت، راه به ذهنیت‌ها بگشاید، راه تحمیل جنگ از خارج نیز هموار می‌شود.

بنابراین اگر ملتی خواهان صلح است باید قبل از اندیشیدن به جنگ وخشونت، به عواقب آن بیاندیشد. به خصوص برای ما افغانها که 36 سال جنگ را پشت سر نهاده ایم، تجربهٔ این جنگ طولانی‌مدت می‌تواند کافی باشد. این تجربه به ما می‌آموزد که در طول 36 سال گذشته، حتی جنگ ابرقدرت‌های زمان نیز نتوانست به صلح در این کشور کمک کند. در طول این جنگ‌های خونین، هیچ گروهی از صحنهٔ ناامنی‌های این کشور حذف نشد بلکه دوام جنگ زمینه‌ساز به میان آمدن گروه‌های خشونت‌گراتر گردید.

پایان

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com – csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com – www.csrskabul.net

شمارهٔ تماس: 784089590 (+93)